بسم الله الرحمن الرحيم

**اروپايي اتحاديه د امريکا د زورگويی پر وړاندې درېږي**




## خبر:

د ۲۰۱۸م کال، د مارچ په ۱۳مه، CNBC رپوټ ورکړ چې د سوداگرۍ لپاره د اروپا کمېشنر، سيلسيا ملمسټرون، يوې سوداگريزې محکمې ته ويلي: «د سپينې ماڼۍ اوسني ظلم ته که لږ نظر وکړو، پر دې ټينگار کوي چې اروپا بايد «د زورگويۍ پر وړاندې ودرېږي» او له گوابنونو ونه وېرېږي.» او دا خبره يې هم څرگنده کړله چې د بروکسل د تېنک- ټانک رييس ويلي دي چې اورپا بايد د هغو محاصرو پر وړاندې کوم امتياز اخيستلو ته تسليم نه شي چې د ټرامپ اداره غواړي چې د تعرفو معافيت جوړ کړي.

## تبصره:

د مارچ پر ۸مه، ټرمپ يو فرمان لاسليک کړ چې له مخې به يې ۱۵ ورځې وروسته پر فولادو ۲۵سلنه او پر المونيمو ۱۰ سلنه تعرفه لگول کېږي او بيا يې وويل چې کاناډا، مکسيکو او آسټراليا به له دغو تعرفو معاف وي، پر يادو هېوادونو سربېره به ځينې نور هېوادونه هم استثنی وي. که څه هم د کاناډا او مکسيکو معاف کېدل موقتي دي او د امريکا په خوښه شرايطو سره د NAFTA هوکړه ليک په بيا لاسليک پورې اړه لري. ټرمپ د دې موضوع په اړه په غوسه ټويټ کوي او د دې نيوکې په ځواب کې چې تعرفې به د ويجاړوونکې سوداگريزې جگړې سبب شي، داسې ليکي: (( کله چې يو هېواد(امريکا) له ټولو هغو هېوادونو سره په

سوداګرۍ کې بیلیونونه ډالر بایلي چې سوداګریزې اړیکې ورسره لري، سوداګریزه جګړه ترې ښه ده او په اسانۍ ګټل کېدای شي.))

دا لومړی ځل نه دی چې ټرمپ داسې تعرفې اعمال کوي. پر سولرونو او د جامو مینځلو ماشینونو باندې د مارچ پر ۲۳مه تعرفې وضعه شوې دي. پر سولرونو تعرفې، د چینایانو سیالي په نښه کوي او د جامو مینځلو پر ماشینونو د تعرفو هدف د سوېلي کوریا کمپنۍ، اېل جي او سامسونګ، دي. د پام وړ خبره دا ده چې امریکا تهاجمي سوداګریزې تګلارې تعقیبوي چې د امریکا متحدین او دښمنان په یو څه ظاهري توپیر په نښه کوي. ټرمپ په دغو تحریمونو چین په نښه کړ او په دې لټه کې دی چې له چین سره مخ پر ودې سوداګریز کسر را کم کړي؛ دی همدا راز ډېر اروپایي هېوادونه په غیر منصفانه سوداګرۍ تورنوي، ټرمپ په دې اړه داسې ټویټ وکړ: « اروپایي اتحادیه، هغه حیرانوونکي هېوادونه چې له امریکا سره په سوداګرۍ کې ناوړه چلند کوي، پر المونیمو او فولادو باندې له تعرفې سر ټکوي. که دوی له هغو امریکایي تولیداتو چې ورځي، خپل لوی خنډونه او تعرفې لرې کړي، موږ به هم هماغسې وکړو. لوی کسر. که نه، موږ پر موټرو او نورو مالیه لګوو. منصفانه!»

د دې ډول پالیسیو پایله به یوه دوه‌اړخیزې سوداګریزه جګړه وي. د فرانسې د مالیې وزیر، برونولي مایر، وویل چې اروپا باید د امریکا د تعرفو پر وړاندې غبرګون وښیي؛ که داسې نه وي نو اروپایان به وانګېري چې موږ کمزوري یو. دا چې د تعرفو پلي کېدو ته یوازې یوه اونۍ پاتې ده، نو د یوې مخامخ جګړې د مخنیوي چانس کم دی.
امریکا له نړۍ سره داسې چلند کوي لکه ټوله نړۍ چې د ده خپله ځمکه وي، هر څه یې چې زړه وغواړي ورسره کوي یې، غواړي د سوداګرۍ پخوانۍ مرکانټلیستي سیاست بیا پلی کړي چې وایي، سوداګرۍ یا د بریا او یا د بایللو حالت دی. له یوې خوا امریکا نوره هم ګستاخه او سپین سترګې کېږي او په عین حال کې خپل تزلزل او سستي هم ښیي. د یوه مخ پر ځوړ ځواک یوه نښه دا ده چې د خپلې شمعې له سوزېدو مخکې ظاهرا له ځوږه ډک وي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**ډاکټر عبدالله رابین**